مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۴/۰۱/۰۲

# د جهل ځنګل

دا ځنګل د جهل ـ دلته رنګ په رنګ قتلونه شي
يو فصل خزان شي، بل چيچلي کسادونه شي

يو د حق په چيغه د کافر په نوم پانسي کاندي
بل خانه خراب له ويری غلی شي سوچونه شي

يو چې ډوډۍ وګوري له خولې نه يې اوبه څاڅي
بل چی په خوان پريواته غومبر وهی شکرونه شی

يو د زنا کار په نوم په کلي کې سنګساره کړي
بل له مينی و تښتي، سترګوړی شهوتونه شي

دلته خلک رنګ په رنګ پاماله حقير شوي دي
وار چی په لاس ورغی، ياغی ـ باغی نفسونه شی

و تښتي له خپلو د تربور په ډلو ننوځي
بيرته چی راستون شي پردي تبر ته لاسونه شي

دلته لويه ټکه د معنی په سر لويدلی ده
هرڅه مادی شوي ګوره نور به څه سازونه شي

دا ژوندون همداسې لالهانده پای يی نه ښکاري
غم پر غم وريږی طوفانونه شي نکلونه شي

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ